ليکوال: شريف بهاند

# کلتوری ټکر او د هغه د پايلو اغيز

## پر اقتصاد، سياست، ښوونې او روزنې

د انسانانو اړيکې، څه په فردی او ملی او څه هم په نړيواله کچه تل د باورونو، ارزښتونو، عادتونو، دودونو او د هغوي د ذهني تصويرونو تر اغيز لاندې دي. دغه ټول، د نورو تر څنګ لکه تاريخ، ژبه او دين په حقيقت کې د تمدن له بنسټيزو عناصرو بلل کيږي. که وغواړو ترلاس لاندې موضوع په ښه او هر اړخيزه توګه روښانه کړو، اړينه بريښي، چې د تمدن تر څنګ د هغه عناصر، د بيلګې په توګه افسانې (اسطوری) Myth ، سمبولونه Symbol ، ټولنيز کړه وړه لکه دود، عرف او ترون (وګوری:Max Weber , 1985 ). هم تعريف شي. خو په دغې ليکنې کې د کنفرانس د موضوع او د وخت د کموالي له امله يوازې د تمدن په تعريف بسنه شوی.

د امريکايي ستراتيژيست، ساموېل فليپ هانتينګتون په اند:" د بشريت تاريخ د تمدنونو تاريخ دئ. د بشر د پرمختک په اړه د فکرکولو له پاره، د تمدن له اداني پرته، نشو کولي، له بل شی څخه ګټه ترلاسه کړو. د بشريت تير مهال (سرګذشت) په نسلونو نسلونو د تمدنونو له بهير (معبر) څخه تيريږي. هغه له لرغونو تمدنونو، سومری او مصری څخه پيل، د لاتيني امريکا، مسيحيت او اسلام له کلاسيکو هغو څخه تير او په دې بهير کې يو لړ نورو تمدنونو، د ساری په توګه چيني او هندی هم ورسره مل شوي دي" (Samuel P. Huntington, 2002, S. 49).

د تمدن اصطلاح د لومړی ځل له پاره فرانسوي متفکرينو په اتلسمې پيړیٔ کې د بربريت د مفهوم په وړاندې رامنځته کړه. د دوي په اند، متمدنې ټولنې هغه وې، چې وکړې يې، کوچيان نه وو، ښاری ژوند يې درلود او د زده کړو خاوندان وو او بدوي ټولنې له دا ډول ځانګړتياوو څخه بې برخې وې. خو دغه ډول طرز تفکر بيا د المان د نولسمې پيړی متفکرينو نه و منلي او دوي په جدی توګه "تمدن، چې په کې د مخانيک او تخنيک علم او مادي فکتورونه راتلل، له کلتور څخه، چې په کې ارزښتونه، هيلې او د ټولنې فکری، هنری او اخلاقی ځانګړتياوې شاملې وې، جلا کاوه"(Huntington, Samuel P. 2002, S. 51). دغه ډول نظريه تراوسه هم پر الماني انديشو واکمنه ده. خو هغه له المان څخه پرته، د نړیٔ په نورو برخو او هيوادونو کې ملاتړي نه لري. په همدې اړه فرنانډ برودل Fernand Braudel وايي: " دا به يوه تيروتنه وي، که وغواړو لکه د المانانو په څير، کلتور د هغه له بنسټ څخه، چې تمدن دئ، جلا کړو"(Huntington, Samuel P. 2002, S. 51). بايد يادونه وشي، که کلتور دئ او که هم تمدن، دواړه د وګړو د يوې ډلې ژونددود ته نغوته ده. لکه څنګه چې برودل وايي: تمدن تر ټولو دمځه" يوه فضا او يا يو کلتوري چاپيريال دئ؛ [هغه سيمه چې] د کلتوري ځانګړتياوو او پديدو يوه ټولګه بلل کيږي"(Huntington, Samuel P. 2002, S. 51). والرشتاين Wallerstein تمدن " د نړی ليد، عادتونو، جوړښتونو او مادی او معنوی کلتور يو ځانګړی پيوستون بولي، چې يوه تاريخی ټولګه جوړوي او له همدا ډول نورو ورته پديدو سره (خو نه تل په عين وخت کې) ګډ ژوند لري" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 51). د دورکهايم Durkheim او موس Mauss په اند: تمدن " يو ډول اخلاقي چاپيريال دئ، چې پر څو ټاکلو ملتونو واکمن او د هر يوه دغه ملت ملی کلتور د هغه ټوليز ( کلّ) يوه ځانګړی بڼه جوړوي" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 51-52).

د تمدن د پورتنيو تعريفونو له ارزونې دا ترلاسه کيږي، چې په ټولو هغو کې "کلتور" يوه ګډه موضوع ده او د هغه بنسټيز عناصر لکه څنګه چې يونانيانو هم له هغو څخه يادونه کړی، وينه، تاريخ، موسسې، دود، ژبه، ژوند دود او ترټولو مهم دين دئ. هانتينګتون په دې اړه ليکي: "د تمدن د تعريف د عينې عناصرو له ډلې څخه، لکه څنګه چې اتنيانو هم پر هغه تأکيد کړی، ترټولو مهم عنصر دين دئ. د بشر د تاريخ ستر تمدنونه هم تر زياتې اندازې پورې د نړیٔ د اصلی دينونو پربنسټ ځانګړي کيږي" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 52). خو کريستفر داوسن Christopher Dawson بيا په دې اړه لا له روښانو کلماتو کار اخلی او وايي: "دين د هر تمدن بنسټيزه ځانګړتيا ده". ... "ستر دينونه هغه بنسټونه دي، چې د سترو تمدنونو بنسټ پر هغوي اېښودل شوي دئ" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 61). په دې توګه ګورو، چې دين ان تر قوم نه زيات د خلکو په ځانګړتيا (متمايز) کې رول لوبوي. يو کس کيدی شی، د مور له لوری الماني او د پلار له خوا عرب وی او يا کيدی شی، د دوو هيوادونو تابعيت ولری، خو دا ناشونی بريښي، چې يو څوک نيم مسيحی او نيم مسلمان وي او يا دا چې هغه دې نيم يهود وي او نيم کنفوسيوسی.

ځانګيز پوهان ټول په يوه خوله د نړیٔ د لرغونو او اوسنيو تمدنونو شتوالي تأييدوي. خو د لرغونو تمدنونو د شمير په اړه د دوي د نظرونو تر منځه توپير ترسترګو کيږي. دساری په توګه کويګلی Quigley له شپاړلسو تاريخي او اتو فرعي تمدنونوڅخه خبري کوي. توين بی Toynbee يو ځل له يوويشتو او وروسته بيا له ديرويشتو تاريخی تمدنونو څخه يادونه کوي. شپنګلر Spengler وايي، چې د اصلي تمدنونو شمير اتو ته رسيږي او مک نيل McNeill بيا د اصلي تمدنونو شمير نهه يادوي. بګبی Bagby د سترو تمدنونو شمير يو ځل نهه بولي او بيا وايي: که د جاپان تمدن د چين له

هغه او د ارتودوکس تمدن له مسیحی تمدن څخه جلا وبولو، نو د تاریخي تمدنونو شمیر به یوولس وي (وګوري: Huntington, Samuel P. 2002, S. 57).

د فرناند برودل Fernand Braudel په اند، په اوسنی نړۍ کې نهه ژوندي تمدنونه لا شتوالي لري. خو بیا روستواني Rostovanyi وايي، چې اوسمهال په نړۍ کې اوه (۷) تمدنه شته دي. ملکو Melko د تمدنونو په اړه د متونونو له څېړنو وروسته، دې پایلې ته رسیږي، چې "څه نا څه د نظر یووالي شته دئ، چې له دولسو څخه زیات اصلی تمدنونه شته دي، چې د هغو له ډلې څخه اوه تمدنه (لکه د بین النهرین، مصری، کرتی، کلاسیک، بیزانسی، د لاتیني امریکا او اندی تمدنونه) له منځه تللي او د هغو پنځه (چینی، جاپانی، هندی، اسلامی او لویدیځ) لا ژوندي دي" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 57). خو ځیني پوهان بیا پر دغو تمدنونو د لاتیني امریکا او په تیره بیا روسی ارتودوکس تمدن هم ورزیاتوي او په دې اند دي، چې ارتودوکس تمدن له خپل مخکنی بیزانسی او لویدیځ تمدنونو څخه جلا تمدن دئ. ځیني نور ځانګیز پوهان بیا د نړۍ له اوسنیو شرایطو سره سم پر پورتنیو یاد شوو تمدنونو ښایي افریقایی تمدن هم ور زیات کړی. لنده دا چې اوسني تمدنونه په لاندې ډول دي:

- **چینی یا کنفوسیوسی تمدن:** د دغه تمدن اصلی مرکز چین دئ. سویلی او شمالی کوریاوې، ویتنام، او تر زیاتې اندازې پورې لاوس او کمبودیا او همدارنګه سنګاپور او هانګ کانګ د دغه تمدن له ډلې څخه بلل کیږي؛
- **جاپانی تمدن:** دغه تمدن له چینی تمدن څخه جلا بلل کیږي او یوازینی تمدن دئ، چې هم ملت دئ او هم تمدن؛
- **هندی تمدن:** دغه تمدن په هر بنه یې، هندی او که یا هندو وي، دوه زریزې مخکې له میلاد څخه، د یوه تمدن په توګه د هند په وچه کې ډیر ارزښت درلود. ځکه "هندوییزم له یو دین او ټولنیز نظام څخه لوړ او د هندی تمدن زړی ګڼل کیږي" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 58) او تر اوسه پورې هم د هند په ټولنه کې بنسټیز رول لوبوي او دغه هیواد یې د اصلی مرکز په توګه ګڼل کیږي؛
- **اسلامی تمدن:** ټول ځانګیز پوهان اسلام د یوه خپلواک تمدن په توګه مني. دغه تمدن په اومه پیړۍ کې له رامنځته کیدو وروسته په ډیرې چټکتیا سره د افریقا له شمال څخه نیولی، تر منځني اسیا، د هند نیمي وچې بیا تر سویل ختیځي اسیا پورې پراختیا وموند. همدا لامل دئ، چې په اسلامی تمدن کې ځلور بېلا بېلو فرعي کلتورونه، لکه عربی، ترکی، مالایایي او ایرانی تر سترګو کیږي. خو له بده مرغه دغه تمدن د عثمانی امپراتورۍ په له منځه تلو سره له اصلی مرکز څخه بې برخې شوی دئ؛
- **لویدیځ یا مسیحی تمدن:** پوهان د لویدیځ تمدن پیل ۷۰۰ او یا ۸۰۰ میلادی کال بولي او وايي، دغه تمدن دوه اصلی مرکزونه لري، چې یو یې په اروپا او بل یې په شمالی امریکا کې دئ. ځیني څېړونکي بیا په دې اند دي، چې:
- **ارتودوکس تمدن:** د لویدیځ تمدن یوه ځانګه ده. خو ځیني نور پوهان بیا وايي، چې ارتودوکس تمدن د روسیې په مرکزیت ځانته تمدن او هغه د بیزانس د تمدن میراث او د جلا دین خاوند دئ د دغه تمدن نور غړي هیوادونه د نورو تر څنګ بلغاریا، صربستان، رومانیا او یونان دي؛
- **د لاتیني امریکا تمدن:** د لاتیني امریکا وګړي د خپل تمدني هویت په اړه بېلا بېل نظرونه لري. ځیني په دې اند دي، چې دوي د لویدیځ تمدن یوه برخه دي. خو ځیني نور بیا ادعا کوي، چې ځانته خپل ځانګړی تمدن لري. که څه هم د لاتیني امریکا وګړي څه نا څه ټول د کاتولیک مذهب پیروان دي، خو سره د هغه هم د دوي کلتور د اروپا او شمالی امریکا له کلتور څخه توپیر لري. ځکه د لاتیني امریکا په کلتور کې لا د هغې د بومی کلتور نښې نښانې تر سترګو کیږي، چې دا ډول نښې نښانې په شمالی امریکا کې له منځه تللي دي او په اروپا کې هغو اصلاً شتوالي نه درلود.
- **افریقایی تمدن:** پرته له برودل څخه نور تمدن پوهان د افریقایی تمدن د شتوالی په اړه شک لري او هغه د یوه خپلواک تمدن په توګه نه مني. ځکه د دغې وچې شمالی برخه او ختیځ سواحل په اسلامی تمدن پورې اړه لري، د هغې ځینو نورو برخو ته اروپایي ګډوالو له ځانه سره لویدیځ تمدن راوړی، د حبشي هیواد ځانته د ځانګړی تمدن خاوند دئ او د سویلي افریقا په هیواد کې لومړی هالندیانو بیا وروسته فرانسوي او انګلیسي ګډوالو څو اړخیزه اروپایي کلتور له ځانه سره راوړی دئ. تر ټولو مهمه دا چې د صحرا په سویلي هیوادونو کې اروپایي پانګه وال نظام مسیحی تمدن خپور کړی دئ. د افریقا په وچه کې بېلا بېلي قبیلې د خپل هویت په لرولو سره استوګني او په چټکتیا سره د پراختیا په حال کې دي او دوي له بل هر وخته اوس، یوه افریقایی هویت ته د بنې ورکولو په هڅه کې دي او دا نا شونی نه برېښي، چې د صحرا سویلي هیوادونه ځانته یو خپلواک کلتور رامنځته کړي، چې ښایي د دغه کلتور مرکزی هیواد د سویلی افریقا هیواد وي (وګوري: Huntington, Samuel P. 2002, S. 57-62).

له بل هر وخت څخه اوس یا په وینا له سړې جګړې څخه وروسته، تمدنی هویت په زیاتیدونکی توګه ارزښت تر لاسه کړي او ډیر لړ پیښیږي، چې سړی وکولی شي، د تمدنونو تر منځه پر ځانګړتیاوو او توپیرونو سترګې پټې

کړي. له همدې امله د هغوي حل تر اقتصادي او سياسي مسألو پيچلي او پر سر يې روغې جوړې ته رسيدل ډير ګران کار بريښي. ځکه له لرغوني زماني راپدېخوا د تمدنونو تر منځه توپيرونه نه يوازې دا چې واقعي، بلکې بنسټيز دي. که څه هم د هغوي د ځينو، په تيره اسلام او مسيحی تمدن تر منځه بنسټيزې ګډې وجهې هم تر سترګو کيږي او هر يو د دوي ادعا کوله، چې نړۍ ته د خدای (ج) د پيغام راوړنکي دي او دنده لري، د پروردګار دغه پيغام د نړۍ هرې برخې ته ورسوي، چې په دې ترڅ کې اسلامي تمدن ته برياوې ور په برخه او په تيره له مسيحي تمدن څخه يې برترې ترلاسه کړه. برنارد لوويس Bernard Lewis په دې اړه ليکي: "مقايسه قرون وسطای مسيحی و قرون وسطای اسلامی به خوبی نشان ميدهد، که جهان اسلام مسير بهتری را از تمدن باستان تا تمدن جديد عرضه ميکند. دنيای اسلام وسيع و ثروتمند بود. منطقۀ وسيعی را با مردمان ګوناګون و منابع عظيم زير پوشش خود داشت. ... در مقابل، اروپای مسيحی از لحاظ منابع فقير بود، و ديدګاهی محدود و منطقه ای داشت که از بسياری جهات پايين تر از سطح دستاورد های اسلام بود" ... اروپا در قرن وسطا دارای وسعتی کم، نګرشی محدود و تحملی ناچيز بود. آنها نه تنها ديګر اديان بلکه مذهب های ديګر مسيحيت را هم تحمل نميکردند. ولی اسلام ترکيبی متنوع و خصلتی کثرت ګرا داشت. مسلمانان اختلافات قابل توجه اعتقادی و عملی خود را تحمل ميکردند. آنها حتی حاضر بودند جای ويژه ای را در جامعه در اختيار اديان رسمی قرار دهند" (Lewis Bernard, 1916, S. 17-18). خو د مسيحی تمدن سياسي، مذهبي او د اقتصادي چارو لاربندو د هغه د وروسته پاتيوالي د منځه وړلو له پاره لاس په کار پورې کړ، چې د دغو هاند و هڅو په ترڅ کې مسيحی تمدن وکولی شول، د دولسمي او ديرلسمي پيړی ترمنځه خپله وده پيل کړي او د دغې ودې لامَل ته هانتينګتون داسی نغوته کوي او وايي، چې د دغې چټکې ودې" دغه اسانتياوې د برترو تمدنونو لکه اسلام او بيزانس له مناسبو عناصرو څخه په خورا ميني او اغيزمني توګه کار اخيستنه او د دغو ميراثونو برابرېدنه (تطابق) د لويديځ له ځانګړو شرايطو او ګټو سره و"(Huntington, Samuel P. 2002, S. 65) او د اقتصاد او سياست پوهان دغې چټکې ودې ته د اروپا معجزه وايي (وګورئ: Kennedy Paul, 1991, S. 48-68). د پنځلسمې پيړی له پيل څخه راپدېخوا د دغې معجزې په ترڅ کې د اسلام او مسيحيت په نړۍ کې ستر هر اړخيز بدلونونه رامنځته شول، چې هغه د مسيحيت د ځواکمن کيدو په ګټه و. د لويديځ دغه ځواکمن کيدل لکه ځنګه چې جفری وايي: " د هغه د انديښنو، ارزښتونو او دين ... د برترې له امله نه و، بلکې د لويديځ د دغه برلاسی لامَل له سازمان ورکړ شوی زور څخه ګټه اخيستنه وه. دا هغه ټکی دئ، چې لويديځوال يې اکثراً له ياده وړی، خو هغه د نالويديځو له ياده هيڅکله نه وځي" (بهاند شريف، ۲۰۰۶ ، مخ، ۳ ). له زور او تودې وسلې څخه په کار اخيستنې سره لويديځوالو وکړې شول، چې نه يوازې مسلمانان له ايبری ټاپو (اسپانيه او پرتګال)، اتريش او روسيې څخه په شا کړي، بلکې د نړۍ ځينې برخې په مستقيمه او غير مستقيمه توګه تر خپل کنترول لاندې راوړي. د ساری په توګه لويديځ په کال ۱۸۰۰ کې د نړۍ پنځه ديرش په سلو کې تر خپل کنترول لاندې درلوده. دغه شمېرنه (رقم) په ۱۸۷۸ کال کې ٪ ۶۷ او په ۱۹۱۴ کال کې ٪۸۴ ته ورسيده (وګورئ: Huntington, Samuel P. 2002, S. 66).

په لنډه توګه " په دې ډول کې، تمدن يوازې د لويديځ تمدن په مانا و. ... نړيوال قوانين هم لويديځ نړيوال قوانين وو، چې ريښه يې د هوګوګروتيوس Hugo Grotius دود ته رسيده. نړيوال نظام، واکمن وستفالی نظام، هم د خپلواکو خو "متمدنو" ملی دولتونو او د دوي تر کنترول لاندې مستعمرو، نظام و " (Huntington, Samuel P. 2002, S. 68). خو د وستفالن د سولې د تړون peace of Westphalia ۲۴ ، ۱۰ ، ۱۶۴۸) وګورئ: Der Brockhaus, Bd. 15, S. 217) له لاسليک څخه وروسته، سره د هغه هم له يوبځوا د لويديځ تمدن د غربيو هيوادونو او له بلې خوا د دوي او د نړۍ د نورو هيوادونو ترمنځ سيالي، کړکيچ او ان جګړې پيښې شوي. دغه جګړې په لومړی سر کې د پاچاهانو او بيا د ملتونو تر منځه وي. خو په روسيې کې د سوسياليستی انقلاب په بری سره بيا دغو جګړو ايډيالوژيکه بڼه غوره کړه. دغه تولې جګړې تر هرڅه دمخه د اقتصاد او پوځ د پياوړتيا، د ځمکنې پراختيا او د دولت د اغيز د زياتولو او پر نورو د مستقيمي او غير مستقيمي واکمنی له پاره تر سره کيدې.

خو په نړۍ کې د هغو په زياتيدو سره، د بيلګې په توګه لومړي نړيواله جګړه، ان په متحدو ايالتونو کې، چې تر دې وخته يې جګړو کې د نه برخو اخيستو سياست درلود، د دې غوښتنې پلويان مخ په زياتيدو وو، چې په اروپايي جګړې کې په برخې اخيستنې سره، بايد هغه له منځه يوورل شي، څو د مونرو د دکترين Monroe-Doktrin پر بنسټ لکه د متحدو ايالتونو په څير " آزادی د نړۍ نورو برخو ته هم ورسول شي" او " نړۍ د ولسواکی له پاره مطمينه شي". نو ځکه د لومړې نړيوالې جګړې په پايته رسيدو سره د ملتونو تولنې غوښتل نړيواله سوله تضمين کړی. خو د امريکا د متحدو ايالتونو د سنا مجلس په دغې تولنه کې د هغه غړيتوب رد کړ (وګورئ: Blomert, Reinhard, 2006, S. 2). ځکه متحدو ايالتونو د دغې تولنې په مرسته نشو کولې، خپلې موخو ترلاسه کړي. خو له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو په بنسټ ايښودلو سره د نوي ليبرال نړيوال نظم رامنځته کول اعلام شو. " دا چې دا ځل د متحدو ايالتونو شرايطو د قانون بڼه غوره کړه، نو د دغه هيواد سنا له هغه سره خپله هوکړه اعلام کړه" (Blomert, Reinhard, 2006, S. 2) او په دې توګه د اروپايانو او امريکايانو تر منځه د تعادل سستيم له منځه لاړ او متحدو ايالتونو له سياسي او اقتصادي پلوه برترې ترلاسه کړه. د نړيوال مالي سستيم په برخه کې هم د بريتانويانو وړانديز رد او د هغه پر ځای " ډالر د نړيوالې پيسې د زيرمې (ريزرف) په توګه او د هغه د رول له لارې د نړۍ پر

اقتصادي بهير باندې کنترول" (Engdahl, F. William, 2003, S. 2 او یا بهاند، شریف، ۲۰۰۶ ، مخ، ۱۰). و منل شواو د لویدیځ تمدن د هیوادونو تر منځ، متحدو ایالتونو د لیبرالي ولسواکۍ د نظام د مخکښ هیواد په توګه خپله برترې ثابته کړه.

خو د دریمې نړۍ پر سر د واکمنې له پاره د متحدو ایالتونو او شوروی اتحاد، چې د ارتودوکس د تمدن مرکزی هیواد دئ او د سوسیالیستی نظام مخکښ و، تر منځه سیالی پیل شوه. دغې سیالۍ د سړې جګړې تر نامه لاندې څه نا څه ځلویشت کاله دوام وموند. خو دغه ایدیالوژیکه سیالۍ د تیرې پیړۍ په وروستې لسیزې کې د شوروی اتحاد په ړیګیدو سره پایته ورسیده او دا هیله رامنځته شوه، چې لیبراله ولسواکې د یوه بریالی نظام په توګه او ورسره جوخت لویدیځ تمدن به په ټوله نړۍ واکمن شي. خو زیرک ستراتیژیست، هانتینګتون په نړیوالو چارو کې ستراتیژیکې خلأ ته په پاملرنې سره، خپله نوې ستراتیژې، د کلتورونو تر منځه ټګر، په نامه وړاندې کړه. د نوموړي په اند، د نړۍ د هیوادونو تر منځ مهمې نوې ټلوالې، د سړې جګړې د پړاو په څیر، د ناپییلو هیوادونو غورځنګ، پانګوال او سوسیالیستی نظام نه، بلکې د اوسنې نړۍ د اوو او یا اتو بنسټیزو تمدنونو پر بنسټ رامنځته او ښایي د هر تمدن اصلی او مرکزی هیواد د سړې جګړې د پړاو د ستر ځواک ځای ونیسي. "نړیوال ځواک" نور مانا نه لري. هیڅ یو هیواد، ان متحده ایالتونه د یوازیني زبر ځواک په توګه، ځانګړې ستراتیژیکې ګټې نه لري. ځکه د نوموړي په وینا: " په دې نوې نړۍ کې سیمه ییز سیاستونه قومي ماهیت غوره کوي او نړیوال سیاست د تمدنونو سیاست دئ او د سترو ځواکونو تر منځه سیالي خپل ځای د تمدنونو ترمنځه ټګر ته ورپرېږدي" (Huntington, Samuel P. 2002, S. 24).

له همدې امله د لویدیځ تمدن ستراتیژیستان خپلو حکومتونو ته سپاربښتنه کوي، چې لویدیځ باید په نړۍ کې له خپلو ارزښتونو او اوسنی برتر موقعیت څخه دفاع وکړي او د دې موخې د ترلاسه کولو له پاره د نورو تمدنونو له خپل منځې شخړو ګټه پورته او له هغو هیوادونو او همدارنګه هغو ډلو سره خپله همکاري او ملاتړ پیاوړې کړې، چې د لویدیځ تمدن پلویان بلل کیږي. سربیره پر دې لویدیځ باید په اوږدمودیزه توګه ځان له داسې یوې نړۍ سره مخامخ کیدو او سیالۍ ته چمتو کړي، چې په کې، د لویدیځ د اقتصادي او پوځي برلاسي وخت مخ په تیریدو او د ځواک توازن د دوي په زیان او د نورو هغو په ګټه بدلون موندلی دئ. هانتینګتون په دې اړه لیکی:" اوسمهال لویدیځ د نړۍ تر ټولو ځواکمن تمدن دئ او په راتلونکو کلونو کې به هم خپل دغه دریځ وساتی. خو په عین حال کې د لویدیځ ځواک، د نورو تمدنونو په پرتله د کمزورتیا او زوال په حال کې دئ"(Huntington, Samuel P. 2002, S. 28).

نو ځکه لویدیځ په دې هڅه کې دئ، چې له خپل دغه ترلاسه شوی برتر دریځ، ارزښتونو او ګټو څخه په هر ډول چې وي، ان له پوځي ځواک څخه په ګټې اخیستنې سره، دفاع وکړي او د سیالو هغو په تیره اسلامي ــ کنفوسیوسي تمدنونو اقتصادي، سیاسي او پوځي ځواک محدود کړي. ځکه دغه تمدنونه "هڅه کوي، خپل پوځي او اقتصادي ځواک ته پراختیا ورکړي، څو د لویدیځ په وړاندې مقاومت وکړي او یا له هغه سره تعادل ته ورسیږي" ( Samuel P. Huntington, 2002, S. 28).

خو اوسمهال حالت بل ډول دئ، لویدیځ کولي شي دغه هیوادونه د پخوا په څیر د پرمختیایي او یا هم د دریمې نړۍ د هیوادونو په نامه یاد کړي، خو یوه خبره د لمر د وړانګو په څیر روښانه ده، چې دوي د لویدیځ په وړاندې د اقتصادي ځواک په توګه رامنځته شوي دي. "هغه څه چې له چاپان څخه پیل د هانګ کانګ او سنګاپور د ښارې ــ دولتونو له سره تیر او د اسیا د زمریانو [په نامه] هیوادونو، سویلي کوریا او تایوان ته په رسیدو سره د اسیا له دغې برخې څخه د یوې عالی درجې متمرکزې انرژي په لرلو، یوه اقتصادي سیمه رامنځته کړې ده. دوي ټولو د سوکالۍ لاره غوره کړي، چې ښایي هغه سیاسي، اقتصادي او وروسته بیا هم د نړۍ پوځي جوړښت ته بدلون ورکړي" ( Steingart, Gabor, 2006, S. 3 ).

د نوموړو هیوادونو ترڅنګ چین د کنفوسیوسی تمدن د مرکزی هیواد او هند د هندی تمدن د اصلی هیواد په توګه هر یو د اسیا په دغې برخې کې خپل ځانګړی ځای لري. که نوموړي هیوادونه خپلې دغې اقتصادي ودې ته، پرته د کوم خنډ له رامنځته کیدو څخه دوام ورکړي شي،" نو چین به په راتلونکو ۳۵ کلونو کې د اقتصادي ځواک په توګه د امریکا د متحدو ایالتونو ځای ونیسي او هند به له هغه سره اوږه په اوږه خپل پرمختک ته دوام ورکړي" ( Steingart, Gabor, 2006, S. 3 ). دغه حقیقت د المان د پخوانی لومړی وزیر، هلموت شمیت Helmut Schmidt په خبرو کې لا په ښه توګه روښانه کیږي. نوموړی وایي: " موږ [د ملتونو] د غیرعادی خوځښت د ناڅاپی پیل اوسمهاله شاهدان یو. له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د نړۍ د ثقل مرکز له اروپا څخه د امریکا په لوري وخوځید، څو له هغه ځایه د اسیا خواته وخوځیږي. په دې توګه د لویدیځ د برترې پېر د پایته رسیدو په حال کې دئ." (Steingart, Gabor, 2006, S. 3) د سویلی اسیا او لری ختیځ د هیوادونو دغه اقتصادي ځواکمنتیا د لویدیځ د اقتصادي کمزورتیاپه مانا ده.

د دې تر څنګ، د بنسټپالنې او ترهګرۍ سترو ګواښونو ته په پاملرنې سره، لویدیځ سیاستوال، په تیره بیا امریکایان په دې ټینګار کوي، چې د دوي دولتونه باید په خپلو هاند و هڅو کې د لویدیځ د ګټو، اصولو او ارزښتونو د ساتنې له پاره د هغو په وړاندې، په کلکه مبارزه وکړي. نو ځکه پورتنیو ګواښونو، په تیره د بنسټپالنې ګواښ ته په نغوتې سره د بریتانیا لومړي وزیر، تونی بلیر د متحدو ایالتونو د کلیفورنیا د ایالت د لاس انجلس په ښار کې د نړیوالو چارو د شورا یوې جوړې شوې غونډې ته په خپله وینا کې وویل: "ما نمی توانیم در مبارزه علیه این افراط گرایی پیروز

شویم، مگر اینکه در سطح ارزشها نیز همانند کاربرد قدرت موفق شده و نشان داده باشیم که بیطرفانه، منصفانه و عادلانه این ارزش ها را در تمامی جهان ترویج میکنیم". ... اقدام در این زمینه مانند جنگ است. اما جنگ غیرمتعارف که کسب پیروزی در آن مستلزم آن است که " نشان دهیم، ارزش های ما نیرومندتر، بهتر، عادلانه تر و منصفانه تر از گزینه های دیگر است". ... " ... مبارزه ای اصولی بر سر ارزش های در جریان است، که باید آینده جهان را شکل دهد"( Tony Blair, 2006, S. 1-2 ).

د پورتنیو گرښو له ارزونې دا پایله ترلاسه کیږي، چې لویدیځ په دې هڅه کې دئ، له خپل دغه برلاسه دریځ څخه د هرې وسیلې په کارونې سره ساتنه وکړي او نالویدیځ، په تیره ځینې اسلامي هیوادونه، چې په اصطلاح له ترهګرۍ څخه ملاتړ کوي، د ګواښ په کولو سره دې ته اړ کړي، چې نه یوازې د دوي سیاسي، اقتصادي اصول، بلکې کلتوري ارزښتونه هم ومني.  که نه نو له هغو سره به ټکر رامنځته شي. په دې اړه د بریتانیا لومړی وزیر، تونی بلیر ایران او سوریې ته په خپله یوې وینا کې داسې ګواښ کوي او وایي: " سوریې او ایران ته باید په ښکاره توګه روښانه کړو، چې ستاسو په وړاندې یوه ټاکنه شته ده: نړیوالې ټولنې سره یو ځای شي او د لوبې هماغه قاعده ومني، چې موږ ټولو منلي ده او یا به له تاسو سره ټکر وشي"( Tony Blair, 2006, S. 1-2).

خو لکه څنګه چې په مخکنیو ګرښو کې یادونه وشوه، اوسمهال هر څه د بدلون په حال کې دي. یو شمیر نالویدیځو هیوادونو، په تیره د لرې ختیځ هیوادونو د پام وړ اقتصادي پرمختیاوې ترلاسه کړي او هغه سره جوخت سیاسي او کلتوري دریځ یې هم پیاوړي شوی دئ او له لویدیځ سره د سیالۍ په حال کې دي. په اسلامي نړۍ کې هم د اسلامي هویت حس او په تیره ځان خبري (خوداګاهی) د غوړیدو په حال کې ده. اسلامي هیوادونه د داسې یوې لارې په لټه کې دي، چې د هغې په مرسته وکړي شي له لویدیځ سره پوځي تعادل رامنځته کړي. خو د دوي تر منځه د وحدت او د اسلامي تمدن د مرکزی دولت نشتوالي په دې لاره کې سترې ستونزې ګڼل کیږي. ځکه د عثمانی امپراطورۍ په له منځه تلو سره اسلامي نړۍ له داسې مرکزی هیواد څخه، چې پیاوړی اقتصادي ځواک د بنسټ په توګه، د غښتلي او له اوسنیو شرایطو سره سم په مدرنو وسلو سمبال پوځ ولري، له سیاسي، کلتوري او دیني مشروعیت څخه برخمن او د اسلامي او غیر اسلامي هیوادونو له خوا د اسلامي نړۍ د لارښود په توګه منل شوي وي، بې برخې ده. د هانتینګتون په اند، په بیلا بیلو وختونو کې د اسلامي تمدن د غړیو هیوادونو له ډلې څخه د شپږو هغوي نوم د بالقوه لارښود په توګه اخیستل شوي. خو د هغوي هر یو د ځینو شرایطو او ستونزو د لرلو له ګبله نه شي کولې، د اسلامي نړۍ د اصلی هیواد په توګه رول ولوبوي. دغه هیوادونه په لاندې ډول دي:

- اندونیزیا: د اسلامي نړۍ ستر هیواد دئ، له اقتصادي پلوه پیاوړی او وده یې چټکه ده. خو له عربی مرکزیت څخه لرې پروت او اوسیدونکې یې د اسلام له تمدنه پرته د بومی، هندی، چینی او مسیحی کلتورونو تر اغیز لاندې هم دئ؛
- مصر: عربی هیواد، د زیاتو وګړو، اسلامي روزنیزې موسسې، د سارې په توګه د الازهر د پوهنتون خاوند دئ او مهم جغرافیایي پریوت هم لرې. خو بیا بیوزله، په نړیوالو موسساتو، متحدو ایالتونو او د اسلامي نړۍ په بډایو هیوادونو پورې تړلی دئ؛
- ایران: د وسعت، پریوت، وګړو، تاریخي دودنو او تجربو، منځنې اقتصادي ودې او د تیلو د زیرمو له پلوه دا شرایط لري، چې د اسلامي نړۍ په اصلی هیواد واوړي. خو بیا د شیعه مذهب، فارسی ژبې او له عربو او ترکانو سره د دوي د تاریخي کړکیچونو له امله دغه دریځ نه شي ترلاسه کولې؛
- سعودی عربستان: د اسلام د رامنځته کیدو او د هغه د سپیڅلو زیارتونو ځای، عربی هیواد او عربی ژبه، د اسلام د ارمانونو ملاتړ، ترټولو مهم د تیلو د زیرمو د لرلو له امله د مالی اغیز خاوند. خو کم وګړی لرې، جغرافیایی پریوت یې له ګواښ سره مخامخ دئ، له همدې امله په لویدیځ په تیره په متحدو ایالتونو پورې تړلی دئ؛
- پاکستان: د دغه هیواد ښیګنې د هغه جغرافیایی پریوت، زیات وګړي، پوځي ځواکمنتیا او له اسلامي هیوادونو سره ښه همکاری ده. خو بیوزله، له مذهبي کړکیچونو او سیاسي بې ثباتی سره لاس او ګریوان دئ؛
- ترکیه: د اسلام د لارښوونې له پاره غوره شرایط د بیلګې په توګه، منځنۍ اقتصادي وده، تاریخی تجربه، زیات وګړي، ملی یووالی او پوځي ځواک لري. خو تر ټولو مهمه ستونزه یې سکولاریزم، پر دین نه ولاړه اداره، دئ، چې ترکیه له دغه دریځ څخه بې برخې کوي (وګوری: Huntington, Samuel P. 2002, S. 282-288).

له همدې امله د اسلامي نړۍ د مرکزی هیواد د رول د ترلاسه کولو له پاره  د پورتنیو یاد شوو هیوادونو تر منځه سیالی روانه ده. لویدیځ هم د خپلو سیاسي، اقتصادي او کلتوري ګټو د ترلاسه کولو په موخه، له یوبخوا د اسلامي هیوادونو تر منځه دغې سیالۍ ته لمن وهي او له بلې خوا هاند و هڅه کوي، چې د اسلامي نړۍ او نورو تمدنونو، په تیره د کنفوسیوسی تمدن ترمنځه کړکیچ رامنځته کړي.

**پایله:**
له پورتني ارزوني دا پایله ترلاسه کیږي، چي تمدن په تیرې زماني کي د انسانانو پر فردی، ملی او نړیوالو اړیکو ژور اغیز درلود او اوسمهال، په تیره د دریمي زریزې په پیلامه کي لا نور هم زیات شوی دئ. انسانان د تمدن د رامنځته کونکو په توګه نشي کولي د هغه له عناصرو څخه ځانونه وژغوري. په هر تمدن پورې تړلي انسانان د فرد او ډلي، دولت او وګړو، مور و پلار او ماشوم، خدای او انسان تر منځه د اړیکو په اړه، بیلا بیل نظر لید لری. همدارنګه د بیلا بیلو تمدنونو د انسانانو نظر لید د حقوقو او مسؤلیتونو، آزادی، واک او برابری د اهمیت په اړه هم یو له بله څخه توپیر کوي. دا ډول توپیرونه د پیړو په ترڅ کي رامنځته او د تمدنونو د غړو تولنو د اقتصادي او سیاسي پرمختیاوو په لړ کي لا نور هم زیات شوي دي. څکه د ځینو تمدنونو غړو هیوادونو، په تیره د اسلام او مسیحی تمدنونو د تاریخ په لړ کي د برترۍ د ترلاسه کولو له پاره، د نورو تر ځنګ سیالي او جګړې هم ترسره کړي دي. جان اسپوزیتو John Esposito د دغو دوو تمدنونو د کړکیچونو، شخړو، سیالیو او جګړو په اړه وایي: " تاریخی دینامیک اکثراً دغه دوه تمدنونه یو د بل په وړاندې سیالی ته رابللي او کله داسی هم پیښ شوي، چي دغو دواړو تمدنونو د ځواک، زمکنۍ پراختیا او معنوی اغیز له پاره یو له بل سره په خونړو جګړو لاس پوری کړی " ( Samuel Huntington, P. 2002, S. 335). په تیره دا ډول جګړو زموږ د هیواد پر سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو جوړښتونو زیات اغیز کړی. څکه یا افغانستان په خپله په دغو جګړو کي ښکیل و او یا دا چي، د خپل ستراتیژیک پریوت له امله، دی ته اړ شوی، چي د ترلو دروازو سیاست د عمل په ډګر کي پلی کړی. دا ډول حالاتو د هیواد اقتصادي او ترټولو دمخه ښوونه او روزنه له خنډونو سره مخامخ کړي وه او لا ده. څکه افغانی دولت د نورو ملتونو په پرتله په دې برخه کي ډیر وروسته کام پورته کړ (وګوري: بهاند، شریف، ۱۳۷۸ ، مخ، ۲۱۳ـ ۲۴۶ ). له همدې امله په هیواد کي د ښووني او روزني د ځانګي جوړښتونه، لکه وړکتونونه، ښوونځي، پوهنتونونه یا اصلاً نشته او که وي هم، له زیاتو نیمګړتیاوو سره لاس او ګریوان دي. نوځکه د هیواد د ولس کابو ٪۹۰ کي له لیکلو او لوستلو بي برخي دي. د دې تر څنګ ټولنیزې رسني، د بیلګي په توګه رادیو، تلویزیون، ورځپاني، مجلي او کتابونه د روزنیزو وسایلو په توګه د هیواد په ډیرو برخو نشته. نوځکه، زما په اند د هیواد د بچیانو روزنه تر زیاتي اندازې پورې د کورنیو په کچه او د دوي ښوونه د کلیو او بانډو د جوماتونو د ملا له خوا تر سره کیږي.

پای

## اخځای:

۱ـ شریف بهاند: نړیوال کیدل Globalization د یوویشتمي پیړی ستراتیژي، ۲۰۰۶ په:
. Afghan-german.online dehttp://www-
۲ـ شریف بهاند: دریمه زریزه: د امریکا متحده ایالتونه، ناتو او نړیوال نظم، یوه جیوپولتیکي څیړنه، ۲۰۰۶
۳ـ شریف بهاند: په شلمه پیړی کي د هیواد اقتصادي سیاست ته یوه کتنه او د یوویشتمي پیړی په پیلامه کي د هیواد بیارغاوني او اقتصادي پرمختیا له پاره د یوی ستراتیژۍ وړاندیز، په: افغانستان په شلمه پیړی کي، د پوهنیز سیمینار د لیکنو ټولګه، ۱۳۷۸ ، کولن ـ جرمنی
4- Encyclopedia: Der Brockhaus, In Fünfzehn Bänden, Bd. 15, Leipzig, 1998

5- Engdahl, F., William: Ein neues „American Century“? Der Irak und die heimlichen Euro-Dollar-Krieg, 2003
6- Gabor, Steingart: Weltkrieg um Wohlstand, in: Der Spiegel, Heft 37, 11 Sept. 2006 oder: http://www
.Lexisnex.com/de/business/delivery/PrintDoc.do?fileSize=100905&jobHandle=184…
د سوکالی له پاره نړیواله جګړه: دغه مضمون د شریف بهاند له خوا پښتو ته ژباړل شوی، چي ډیر ژر خپورشي.
: Kampf der Kulturen, Die Neugestaltung der Weltpolitik im 21. Samuel P. 7- Huntington, Jahrhundert, München, 2002
8- Lewis Bernard: Cultures in conflict, christians, muslims and jews in the age of discovery, 1916 ژ باړونکی: نادر شیخ زادګان، تهران، ۱۳۸۱
9- Paul Kennedy: Aufstieg und Fall der Großen Mächte, Ökonomischer Wandel und militärischer Konflikt von 1500 bis 2000, Frankfurter am Main, 1991
10- Reinhard Blomert: Die Schüler des Doktor Seltsam, oder Wie George W. Bush lernte, die Bombe zu lieben, in: Berliner Zeitung: Nr. 217, 16/17 September 2006, Magazin

11- Tony, Blair: in:
http.//www.bbc.co.uk/Persian/news/story/2006/08/printable/060802_he-blair-iran-shtml
(په فارسی ژبه)
12- Weber Max: Wirtschaft und Gesellschaft, Tübingen, 1985